# د عنترة بن شداد
# او
# خوشحال خان خټک په شاعرۍ کښې یوشان والی

**A Comparative Study of Antra Bine Shadad and Khushal Khan Khatak Poetry**

**Dr.Habib Nawaz Habib***
**Prof.Dr.Nasrullah wazir***

***Abstract:***

This research paper reviewed the poetic attributes and similarities of great classical Pashto poet Khushal Khan Khatak (1613-1689) and his contemporary Arabic classic poet Antra Bin Shadad.The researchers strived to explain the literary works of both the classical poets in terms of similarities in terms of form, text, diction and message in the light of their poetry. Both the poets keep the similarities in their mood and personality in their literary works, although both of them have no similarity in area, language, nationality and era. However, the similarity in their literary work is worth reading.

د عربۍ شاعر عنترة بن شداد العبسي او د پښتو شاعر خوشحال خان خټك په شاعرۍ کښې دومره یوشان والی دی چې بالکل د یو شاعراحساسات ښکاري، د دوئ که حماسي شاعري وکتلې شي نو پکښې د تورې، ډهال، د جنګ مېدان، وینه، غېرت، ننګیالي، د غېرت مرګ، د مرګ پیاله، ثابت قدمي، قهر، په خپل ځان او قوم قبیله فخر او د هغهٔ تعریف ذکر په داسې انداز شوی دی چې دا د یو شاعر لیك ښکاري. دغه رنګه د دواړو عشقي شاعري هم یو لوئ مشابهت لري د دواړو په عشقیه شاعرۍ کښې د جنګ د اوزارو، حالاتو او د ننګیالتوب

* Dr. Habid Nawaz Habib Assistant Professor NUML, Islamabad
* Prof. Dr. Nasrullah Wazir department of Pashto Baluchistan University, Quetta.

ذکر ډېر زیات شوی دی. عنترة خپله محبوبه "عبلة"ته د خپل ننګیالتوب ذکر کوي خپل ځان ډېر ننګیال ظاهروي. دې نه علاوه د خپلې محبوبې بنړو ته د غشي، توری او سترګو ته ئې د خونخواری تشبیه ورکوي. دغه رنګه خوشحال بابا هم په خپله شاعری کښې ډېر ننګیالتوب ظاهروي او د محبوبې سترګې خونخوارې ګڼي او باڼو ته ئې غشي وائي او په خپله محبوبه د ځان قربانولو ذکر کوي.

## د محبوبې حسن:

عنترة بن شداد العبسي او خوشحال خان خټك د محبوبې په مخونو دومره میئن وو چې هغه ته به یې د شمس او قمر تشبیهات ورکول د دوئ وینا مطابق لمر په خپله ومنل چې د محبوبې مخونه ښکلې دي بلکه لمر به د دوئ د مخونو نه شرمېدو.

عنترة بن شداد وايي:

أشــارت إليهــا الشــمسُ عنــد غروبهــا
تقــولُ إذا اســود الــدُّجى فــاطلُعى(2)

منظومه ترجمه:

لمر ډوبېږي محبوبه ته په ګفتار شي
توره شپه کښې مخ ښکاره کا چې نهار شي

بیا وایي:

شــمسٌ اذا طلعــتْ ســجدتْ جلالــة
لجمالهــا ، وجــلا الظــلامُ طلوعُهــا (3)

منظوم ترجمه:

---

- ایچ او ډي ریجنل لینګوېجز نمل اسالم اباد

[2]. ابن شداد ، عنترة، دیوان عنترة بن شداد العبسي، مقدمة کرم البستاني، دار صادر بیروت لبنان, 1958, مخ:139

[3]. عبد الرؤف، عبد المنعم، شرح دیوان عنترة بن شداد العبسي، مقدمة إبراهیم الأبیاری،مطبعة فن الطباعة. القاهرة، مصر، مخ: 125

درســت جهــان د محبــوبې پــه نــور رڼــا شــو
لمــر یــې حســن بــې مثــال تــه پــه ســجده شــو

خوشحال خان هم په دغه انداز د محبوبې ښکلې مخ ستائي:

کــه یــو ځلــه مــخ ښــکاره کــه لــه نقابــه
د ښائســـت نامـــه بـــه واخلـــې لـــه آفتابـــه(4)

بیا وايي:

مـــا د زمکـــې پـــه ســـر ولیـــدو مهتـــاب
چــې خجــل تــرې دا مهتــاب دې هــم آفتــاب (5)

د دغــو بېتونــو نــه ښــکاره انــدازه لګــي چــې زمــونږ دا دواړه لــوئې شــاعران د محبــوبې حســن تــه پــه کــوم او څنګــه نظــر ګــوري، د دوئ پــه ســترګو کښــې د محبــوبې حســن تــر آفتابــه او مهتابــه هــم زیــات دې ځکــه چــې آفتــاب او مهتــاب پخپلــه منــي چــې د دوئ نــه د محبــوبې مخونــه ښــکلي دي بلکــې د دوئ د حسن نه شرمېږي.

## دیدن:

دیــدن د مینــې او شــاعرئ بنیــاد دې کــه دیــدن بنــد شــي نــو د عاشــق او شــاعر زړۀ بانــدې اور بــل شــي او د دیــدن پــه طمــع دغــه اور مــړوي. عنتــرة بــن شــداد د محبــوبې پــه دیــدن پســې لــرې بــرې ســیمې، صــحراء او غرونــه ولټــول. د ده د محبــوبې پــلار(د ده تــره هــم وو) بــه هغــه د ده نــه پټولــه او لــرې بــه یــې تــرې بوتلــه، نــورو قبیلــو کښــې بــه اوسېدل نــو عنتــره بــه ورپســې ګرځېــدو ځکــه چــې د دې نــه بغېــر د ده ژونــد انکــار وو. دغــه رنګــه خوشــحال خــان خټــک هــم د محبــوبې د دیــدن تکــې وو کــه پــه ســترګو بــه یــې نــه لیــده نــو پــه خیــالونو او شعرونو کښې یې یادوله. په دې حقله عنتره بن شداد وايي:

---

4. د خوشحال خان خټك کلیات(د کابل چاپ)، 1، مخ:193 .
5. ارمغان خوشحال خان، ص:121

نَعـــــيمُ وصـــــلكِ جنّــــات مُزخرفـــــة
ونـــــارُ هجـــــرِكَ لاَتُبقـــــى ولاتــــذر(6)

خوشحال هم د محبوبې ديدن يو لوئې نعمت ګڼي او وايي چې په دنيا کښې د ديدن د نعمت برابر يو نعمت هم نشته:

پــه دنيــا کښــې نعمتونــه رنګــا رنــګ شــته
د ديــدن د نعمــت کــوم نعمــت ســنګ شــته (7)

## بېلتون:

د عاشق په ژوند کښې د ټولو نه سخته مرحله بېلتون دې، بېلتون د ده زړۀ وسوزوي او لوګې ئې کړي. خو بل خوا که بېلتون نه وي نو مينه حسينه نه پاتې کېږي. بېلتون په مينه او شاعرۍ کښې ښکلا راولي او عاشق او شاعر ته يو لوې مقام بخښي. خو بيا هم عاشقان او شاعران بېلتون ډېر بد ګڼي او د بېلتون ژوند هېڅ ژوند نه ګڼي.

عنتره وايي:

ونصـــــيبى مـــــن الحبيـــــب بُعـــــاد
ولغيـــــرى الـــــدنو منـــــه نصـــــيب (8)

منظومه ترجمه:

رانـــــه لـــــرې دې حبيـــــب
قـــــرب د نـــــورو دې نصـــــيب

خوشحال وايي:

حريفــــان ډکـــې پيــــالې اخلـــي لــــه ورايــــه
د خوشـــحال خټــک پــه بخــره ننــدارې دي(9)

---

6. عنترة وعبلة، منشورات جروس برس، طرابلس، لبنان 1994م، مخ:166
7. ديوان،دوئمه حصه، ص:345
8. ديوان عنترة بمقدمة کرم البستاني، ص:21

بل ځای وایي:

لکـــــه شـــــمع لـــــه مـــــا درومـــــي
پـــــه بـــــل ځـــــاې بـــــه روښـــــنائي کـــــا(10)

ددې شعرونو نه اندازه لګي چې عنتره بن شداد او خوشحال خان لکه د یو زړۀ خاوندان دي د بېلتون په لړ کښې د دوئ احساسات بالکل یوشان دي. د بېلتون د لاسه په عذاب دي. دواړه خپل ځانونه ډېر محروم او مظلوم ګڼي او د محبوبې په بېلتون کښې د زړۀ بلبلان په چغو ژړوي.

عنتره او خوشحال خان بېلتون د مرګ نه هم سخت او سپك شمېري، دوئ مرګ قبلوي خو بېلتون نه قبلوي. دوئ د فراق ژوندون څه ژوندون نه شمېري بلکې د دوئ په خیال د بېلتون او بې وفائي ژوند ډېر درناك دې نو ځکه وایي چې د بېلتون او بې وفائې نه پس مرګ د سکون ذریعه ده. دغه مفهوم عنتره بن شداد په دې انداز څرګندوي:

فالقتـــــل لـــــی بعـــــد عبلـــــة راحـــــة
والعـــــیش بعـــــد فراقهـــــا منکـــــود(11)

منظوم ترجمه:

پـــس لـــه عبلـــة زمـــا قتـــل بـــه ســـکون وي
پـه فـراق کښـې څـه ژونـدون بـه مـې ژونـدون وي

بیا وایي:

وهلاکـــــي فـــــي الحـــــب أهـــــون عنـــــدي
مـــــن الحیـــــاتي إذا جفـــــاني الحبیـــــب(12)

---

9. کامل، دوست محمد خان، د خوشحال خان خټك کلیات، ادارۂ اشاعت سرحد، پاکستان 1960، مخ:515

10. دیوان خوشحال خان خټك، دوئمه برخه، مخ : 267

11. دیوان عنترة بن شداد په مقدمه د عب المنعم عبدالرؤف، مخ: 64

12. دیوان عنترة بن شداد په مقدمه د کرم البستاني، مخ:21

منظومه ترجمه:

مـرګ مـې مینـه کښـې قبـول بېلتـون دې نـه وي
چـې مـې یـار شـي بـې وفـا ژونـدون بـه څـه وي

هم دغه مفهوم خوشحال داسې بیانوي:

مـرګ مـې سـل ځلـه قبـول بېلتـون دې نـه وي
د دې هسـې یـار بېلتـون تـر مـرګ بـلا شـي(13)

دي شـعرونو څخـه دا خبـره څرګنـده شـوه چـې د عنتـره بـن شـداد او خوشـحال خـان ژونـدون پـه مینـه کښـې دې کـه مینـه او وصـل نـه وې نـو دوئ مـرګ غـواړي. خـو بیـا هـم دا یـو څرګنـد حقیقـت دې چـې کـه دوئ بېلتـون وهلـي نـه وې نـو نـن بـه د دوئ مینـه او شـاعري ژونـدۍ نـه وه. دا د فـراق کمـال دی چـې دوئ پـه سـوي او لـوغړن زړۀ داسـې شـاعري وکـړه چـې مینـه او شاعري ئې ژوندۍ پاتې شوه او نن ئې مونږ غزلو او بدلو کښې یادوو:

## غزل:

د عنتـره بـن شـداد او خوشـحال خـان ختـك عشـقي شـاعرۍ یعنـي غـزل کښـې ډېـر یوشـان والـې دې. دوئ د خپلـې محبـوبې ښـکلا، وصـال، فـراق او د مینـې پـه لار کښـې د تکلیفونـو او مصـیبتونو ذکـر یـو شـان کـوي. دوئ د محبـوبې سـره بـې کچـه مینـه لـري د مینـې پـه لار کښـې خپـل ځـان قربـانول غـواړي. دوئ مینـې تـه ژونـد وایـي او د مینـې نـه بغېـر ژونـد مـرګ ګڼـي او وایـي چـې کـه محبوبـه بېوفـائي وکـړي نـو بیـا د ژونـدون هـېڅ ضرورت نشـته او دا وخت به مرګ بهتر وي.

زمـونږ دا لـوئ شـاعران محبـوبې تـه د شـمس او قمـر تشـبیه ورکـوي او وایـي چـې شـپه شـي نـو د محبـوبې مـخ دنیـا تـه رڼـا ورکـوي بنـړو تـه د غشـو او شـونډې تـه ئـې د یعقـوت تشـبیه ورکـوي، اننګـي ئـې د ګـلاب پـاڼې ګڼـي،

---

13. کلیات د خوشحال خان ختك په مقدمه د دوست محمد خان کامل، مخ:336

سترګې ته ئې د هوسۍ سترګو تشبیه ورکوي او د تلو انداز ته یې د شترمرغ یا زرکې تشبیه ورکوي.

عنترة بن شداد او خوشحال خان ختټك وایي چې مینه په خپله توره خلك وژني خو په مینه کښې مرګ شهادت دې عاشق په مینه کښې مړ کېږي نو هغه شهید وي او د قبر خاورې د ده وجود نه خوري بلکې د شهید په شان ترقیامته سلامت وي، د دواړو شاعرانو د غزل په مېدان کښې دیوشان والي اندازه د تېرو کړښو نه لګي چې د دوئ احساسات او جذبات یو شان وو. دوئ په مینه کښې د هر څه نه تېر وو. دوئ مینه د ژوند مقصد ګڼړله مینه د دوئ دنیا ده هم مرګ.

عنترة بن شداد او خوشحال خان ختټك مینه یو پاك او مقدس کار ګڼړلو، د دوئ په نظر کښې عاشق یو عظیم کار کوي بلکې هغه هر وخت غزا کوي او څوك چې په مینه کښې مړ شي هغه ته شهید وایي هغه د قبر خاورې نه خوري.

عنتره وایي:

ألا قاتل الهوى کم بسيفه
قَتِيلُ الغَرامِ لا يُوسدُ في اللّهد (14)

منظومه ترجمه:

مینې څومره خلك قتل په تلوار کړل
ګور ئې نه خوري څوك چې مینه کښې سنګسار شول

په دې لړ کښې خوشحال خان وایي:

عاشقان تر تورو خاورو لاندې نه مري
په دا سپین وېښته به څه رنګه زېړېږي (15)

بل ځائ وایي:

---

14. دیوان عنترة بن شداد په مقدمه د عبد المنعم عبدالرؤف، مخ: 67
15. کلیات د خوشحال خان ختټك په مقدمه د دوست محمد خان کامل، مخ:350

عاشـــــق هــــــر زمـــــان غــــزا کـــــه
پـــــــه تيــــــــره تــــــوره د لا(16)

بل ځای وايي:

پرهـــار پـــه ده بانـــدې کـــه ســـوزن نشـــته
عاشـــق شـــهيد دې پـــه دا کښـــې ظـــن نشـــته(17)

د عنتره او خوشحال خان ختمك نظر کښې د عشق شدائد والام انسان اوچت مقام ته رسوي، دا يو حقيقت دې ځکه چې که عنترة او خوشحال خان عشق نه وې کړې نو نن به د دوئ نومونه هم نه وې خو دا د عشق برکت دی چې د دوئ شاعري ئې يو لوئې مقام ته ورسوله ځکه نن مونږ د دوئ شاعري لولو او د دوئ د شدائد او تکاليف قيصې يادوو.
عنترة وايي:

وَلَقَـــــد لقيـــــتُ شـــــدائدا وأوابـــــداً
حتـــــى إرتَقَيْـــــتُ إلـــــى أعـــــزِّ مقـــام

منظومه ترجمه:

مينـــــې راکـــــړل ډيـــــر دردونــــه او الام
ســـرفراز شـــوم د عـــزت پـــه لـــوئې مقـــام

هم دغه مفهوم خوشحال خان په دا رنګ بيانوي:

عشـــقه! تـــه تـــر اورنګزيـــب بادشـــاه بهتـــر ئـــې
چـــې خوشـــحال دِ پـــه جهـــان کښـــې ســـربلند کـــا(18)

---

16. د خوشحال خان ختمك کليات، د کابل چاپ، مخ:20
17. ديوان خوشحال خان، دوئمه برخه، مخ: 158
18. خوشحال ريويو، ج4، سپريل نمبر 1، شاه جهان (خوشحال او اورنګزيب)، خوشحال ريسرچ سېل پېښور يونيورسټي،
پېښور، 1958ء، مخ: 49

معلومه شوه چې زمونږ د شاعرانو په نظر کښې عشق د ژوند يو داسې سمندر دې چې انسان وربريوځي نو ژوند ئې په قلار نه وي بلکه د تکليفونو او مصيبتونو نه ډک وي، هره سا ئې لکه د اوبو په شان وي، خو دا د نقصان خبره نه ده، د فائدې خبره ده ځکه چې دا تکليفونه او مصيبتونه د انسان په فکر او عمل کښې ښکلا راولي کله چې انسان دعشق تکليفونه او مصيبتونه ووهي نو د هغه د فکر دنيا پراخه شي او هغه په دنيا کښې د ښو خيالونو ملغلرې په اسانه مومي نو کله چې انسان دې مقام ته ورسي هغه د عزت په لوئې مقام سرفراز شي. دنيا د ده خيالات او افکار په کتابونو کښې ليکي او لولي يې.

**تشبيهات**:

عنترة بن شداد او خوشحال خان د محبوبې حسن ته يو شان تشبيهات ورکړې دي دوئ د محبوبې مخ ته د لمر او سپوږمۍ تشبيهات ورکړې، سترګو ته يې د تورو، بانړو ته يې دغشو او قد ته يې د بان او چنار تشبيهات ورکړي دي. په دې تشبيهاتو کښې د دواړو شاعرانو مينځ کښې ډېر سمون او يوشان والې دې.

عنترة بن شداد وايي:

وكشــــفْتُ بُرقعهـــــا فأشـــــرقَ وجُهُهـــــا
حتـــى أعـــــاد الليـــــل صـــــباحا مُسْـــفرا (19)

منظومه ترجمه:

حجاب مې ترې اوچت کړو مخ يې داسې ځلېدو
لاړه لکه توره شپه، صبا سپين پرقېدو

خوشحال خان وايي:

که يو ځله مخ ښکاره که له نقابه
د ښائست نامه به واخلي له آفتابه (20)

19. ديوان عنترة بن شداد، په مقدمه د عبد المنعم عبدالرؤف، مخ: 91

معلومـه شـوه د تشـبيهاتو پـه لـړ کښـې عنتـره او خوشـحال بالکـل يـو شـان سـمون لـري، دواړه د محبـوبې مـخ دومـره ښـکلې او روښـانه کـړي چـې د لمـر رنـړه سـره يـې برابـرې ورکـوي او وايـي چـې کـه د لمـره رڼـا لاړه شـي تـوره شپه شي نو د محبوبې مخ دنيا ته د رڼا ورکولو دپاره کافي دې.

د سـترګو او بـانړو پـه حقلـه وايـي چـې سـترګې يـې تـورې دي قـاتلې دي، بانړه ئې غشي دي چې د عاشق زړۀ پرې وژني.

عنتره وايي:

تقاتـــــل عيناهـــــا بـــــه وهـــــو مغمـــــد
ومـــن عجـــب أن يقطـــع السـيف فـــي العمـــد (21)

منظومه ترجمه:

تــــورې ســــترګې يـــې تېـــرې تـــورې قـــاتلې
عجـــب دا چـــې پـــه نيـــام کښـــې خلـــك وژنـــي

خوشحال بابا وايي:

د غمـــزې تـــوره دې لاپـــه څـــرخ تېـــرا کـــړه
تـــه مـــې وژنـــې د قصـــاص انديښـــنه مـــه کـــړه (22)

معلومـه شـوه چـې عنتـرة بـن شـداد او خوشـحال خـان د تشـبيهاتو پحقلـه يـو شـان خيـال او انـداز لـري، دواړه د محبـوبې ښـکلي انـدامونو تـه پـه جنګـي اوزارو سـره تشـبيهات ورکـوي او وايـي چـې د محبـوبې ښـکلي اندامونـه دومره ښکلي دي چې غشي او تورې پشان د عاشق په زړۀ او بدن اثر کوي.

---

20. د خوشحال خان ختك کليات، کابل چاپ، مخ: 193
21. ديوان عنترة بن شداد، په مقدمه د کرم البستانی، مخ:140
22. ديوان خوشحال خان، دوئمه برخه، مخ:45

## پاکه مينه او پاک عاشقان:

عنترة بن شداد او خوشحال خان د پاکې مينې عاشقان وو. دوئ باوجود د دې چې ننګيالي او سرداران وو، د محبوبې مينه يې په مينه ګټل غوښتل، نه په زور او طاقت، دواړو طاقت لرلو چې محبوبه ئې په طاقت حاصله کړې وې خو نه، دوئ به د محبوبې وړاندې د خپلې مينې بې کچه اظهار کولو. خپل شدائد او تکليفونه به ئې ورته بيانول او د ننګيالتوب اظهار به ئې کولو چې محبوبې ته احساس وشي. عنترة خپله محبوبه(عبلة)ته مخاطب دی ورته وايي چې زه د نفس او شهوت اتباع نه کوم. زما او د فحاشۍ په مينځ کښې دومره فاصله ده لکه د زمکې او آسمان په مينځ کښې چې فاصله ده. صرف تا سره مينه لرم د دنيا نور ښائست مې پکار نه دی.

دغه رنګه خوشحال هم د پاکې مينې اظهار کوي. هغه وايي چې عشق يوه پاکه جذبه ده په عشق کښې د نفس پرستۍ او فحاشۍ خيال نه وي بلکې چې څوك پاکه مينه کوي د هغه فکر او خيال محترم وي. عنتره وايي:

إنـي إمـر سـمع الخليقـة ماجـد
لاأتبـع الـنفس اللجـوج هواهـا
ولكـن سـألتُ بـذات عبلـة خَبِّـرتُ
أن لااريـد مـن النسـاء سـواها(23)

منظومه ترجمه:

يـم د ښـه اخـلاق خاونـد
نـه د نفـس د لاس پابنـد
دعبلـه د ذات طلـب كـړم
نـه بـاقي ښـځې پـه ژونـد

بل ځای وايي:

---

23. خليل، شرف الدين، ديوان عنترة بن شداد ومعلقته، منشورات دار مكتبة الهلال، بيروت، لبنان، 1997ء، مخ: 75

ولکـــــــن تبعـــــــد الفحشــــــاء
کبُعـــد الارض عـــن جـــو الســـماء(24)

منظومه ترجمه:

یـــم د فحـــش دومـــره لـــرې پـــه امـــان
لکـــه لـــرې ده چـــې زمکـــه تـــر آســـمان

دغـه رنګـه خوشـحال خـان هـم د عشـق ګـدا او خپـل ځـان د ښـه عمـل او فکـر عاشـق او خاونـد ګڼـي او وايـي چـې د عشـق ګـدايان د فکـر پـه جامـه کښـې محتـرم وي يعنـي د دوئ خيـالات افکـار صـفا وي او دوئ د فحـش عملونـو پېروکـار نـه وي او دوئ خپـل ځـان هـم د فاحشـانو نـه لـرې او پـاك عاشق شمېروي هغوي وايي:

دا د عشـــق د ګـــدايانو هســـې چـــاره
چـــې د فکـــر پـــه جامـــه کښـــې محتـــرم دي(25)

بل ځائ وايي:

کـــه بـــې ســـتا لـــه مخـــه وګـــورم بـــل مـــخ تـــه
نـــور پـــه قطـــع دې ړنـــدې شـــي زمـــا ســـترګې(26)

## حماسي (جنګي) شاعري:

عنتـرة بـن شـداد او خوشـحال خـان داسـې خـوږه جنګـي شـاعري کـړې ده چـې پـه موجـوده دور کښـې هـم يـو لـوئې نـام ومقـام لـري. دوئ دواړه تنګيالیـان، جنګيالیـان، عاشـقان او شـاعران وو. لکـه څنګـه چـې دوئ د عشـق او مينـې پـه مېدان کښې سرلښکر وو دغه رنګه د جنګ په مېدان کښې هم سرلښکر وو.

---

24. ديوان عنترة بن شداد، په مقدمه د عبد المنعم عبدالرؤف، مخ:7
25. منتخبات خوشحال خان خټک، پښتو اکيډمي پېښور، مخ: 58
وګورئې: د خوشحال خان ختك كليات، د کابل چاپ، 445/1
26. احسان، فضل احسان انتخاب له ديوان خوشحال خان، خوشحال پرېس پېښور 1991ء، مخ:6

عنتـرة او خوشـحال خـان پـه خپلـه شـاعرۍ کښـې جنګيـالي (خماسـي) شـاعرۍ تـه هـم ډېـر لـوې ځـاۍ ورکـړې وو. دوئ د شـاعرۍ پـه ژبـه کښـې د جنګ مېـدان، تـوره، غشـې، ډال، آس، ننګيـالتوب، زخـم، مـرګ، کاميـابي، مـاتې او نـور جنګـي حـالات او اوزار بيـان کـړي دي او داسـې خـواږه مفـاهيم او تعبيرونه يې وړاندې کړي دي چې د لوستونکو زړونه خوشحالوي.

دوئ پـه خپلـه جنګـي شـاعرۍ کښـې خپـل ننګيـالتوب بيـانوي او خپـل ځانونـه او زړونـه د تـور غـر نـه هـم کلـك، مضـبوط او تکـړه ظـاهروي. دوئ د دښـمن نـه هـېڅ کلـه نـه يرېـږي او غـواړي چـې دښـمن سـره مخـامخ شـي او ورسـره وجنګېـږي. دواړه جنـګ او د جنـګ مېـدان ډېـر خوښـوي او د دوئ زړونـه هغـه وخت ډېر خوشـحال وي کلـه چې پـه مېـدان کښـې د تـورو او زغـرو برېښنا وي.

عنتـرة او خوشـحال دښـمن تـه سـينه پـه سـينه ورځـي او هغـه وخـت د دوئ نـاجوړ زړونـه جـوړېږي کلـه چـې پـه دښـمن بانـدې خپـل زور او طاقـت څرګنـد کـړي چـې دښـمن څـومره زورور او تکـړه وي هـم هغــه رنګــه د دوئ ننـګ، غېرت او طاقت کښې اضافه کېږي.

زمـــونږ دا دواړه شـــاعران د بـــدل تـــږي دي دوئ هــــر وخـــت د بـدل(انتقام)دپاره پـه ګـوټ کښـې ناسـت وي او غـواړي چـې خپلـه تـوره د دښـمن پـه وينـه سـره کـړي او کلـه چـې د دوئ مقصـد پـوره شـي نـو دوئ د مستۍ غزلې وايي.

عنتـره او خوشـحال د بـدنامۍ او بـې غېرتـۍ ژونـد نـه خوښـوي د دوئ پـه نـزد د بـدنامۍ او بـې غېرتـۍ ژونـد نـه د عـزت مـرګ ښـه دې. دوئ غـواړي چـې د جنـګ پـه مېـدان کښـې د غېـرت پـه مـرګ مـړه شـو. دغـه مضـمون او مفاهيم زمونږ دا لوئې شاعران په لاندينو کرښو کښې داسې بيانوي

عنترة وايي:

خُلقْــتُ مــن الجبــال أشــد قلبــاً
و قــد تَفْنــى الجبــالُ ولســتُ أفنــى
ولقــد خشــيت بــان امــوت ولــم تــدر
للحــرب دائــرة علــى ابنــى ضمضــم

دعـــوني فـــي القتـــال امـــت عزيـــزاً
فمـــوت العـــز خيـــر مـــن حيـــاة
دعـوني اوفـى السـيف فـي الحـرب حقـه
واشـرب مـن كـاس المنيـة صـافيا
و هـا انـا قـد بـرزت اليـوم اشـفي
فـؤادي مـنكم و غليـل صـدري (27)

منظومه ترجمه:

د تـور غـر نـه زمـا زړۀ پـه سـخته سـخت
لـوئي لـوئي غرونـه بـه فنـا شـي زه محکـم
ډار دې مـړ نـه شـم لـرم دا لـوئي ارمـان
مـړه پـه چـرخ بانـدې ځمـن کـړم د ضمضـم
د عـزت سـره مـرګ ښـه دې تـر ژوندونـه
جنګيـالي مـې جنـګ لـه غـواړي سـر بـه خـورم
وايـې حـق د تـورې سـر کـه پـه مېـدان کښـې
د مرګـي صـفا د ميـو وڅښـکه جـم
دا دې راغلـم ننګيـالې پـه داسـې شـان
شـو نـاجوړه زړۀ مـې جـوړ پـه صـحت سـم

خوشحال خان دغه مفاهيم داسې بيانوي:

څـوك مـې پـرې مـه وزه لـه قهـر و ترکمـرو
کـه پـه حکـم پـه سـکون لکـه تـور غـر يـم(28)

بل ځائ وايي:

مرګـه هـومره مهلـت راکـړې پـه جهـان کښـې
چـې جمـدر د مـدعي پـه وينـو سُـور کـړم(29)

27. ديوان عنترة بن شداد، په مقدمه د عبد المنعم عبدالرؤف، مخ:176
وګورۍ: طه حسېن (دکتور)، من تاريخ الادب العربي (العصر الجاهلي)، دار الملايين، بېروت، لبنان 1991، مخ:440
28. د خوشحال خان کليات، کامل، ص، 571

بل ځائ وايي:

مـــــرګ پــــه مېـــــدان راكـــــړه
مــــه مـــې وژنـــه پـــه بســـــتر(30)

بل ځائ وايي:

د خوشــحال ختــك خوشــي بــه هغــه وخــت وي
چــې برېښــنا د ســپينو تــورو شــي پــه زغــرو

معلومــه شــوه چــې عنتــرة بــن شــداد او خوشــحال خــان د جنګــي شــاعرۍ پــه حقلــه يوشــان الفــاظ، مفــاهيم، تراكيــب او احساســات لــري دواړه پــه خپلــه شــاعرۍ كښــې خپــل ځانونــه اوچــت ظــاهروي او حقيقــت هــم دا دې چــې دوئ د شــاعرۍ پــه ژبــه نــه بلكــه د حقيقــت پــه ژبــه هــم لــوئې جنګياليــان او ننګياليــان وو. د دوئ دغــه خــوږې جنګــي شــاعرۍ تــه نــن هــم د عربــو او پښتنو په معاشرو كښې د قدر په نظر كتل كېږي.

## فخر:

فخــر د عنتــرة بــن شــداد او خوشــحال د شــاعرۍ يــو اهــم موضــوع ده، كــه چرتــه د دوئ د فخريــه شــاعرۍ صــفت ونشــي نــو حــق بــه پــورا نــه شــي. فخــر د دوئ د شـــاعرۍ هغـــه موضـــوع ده چـــې د دوئ حقيقـــي ژونـــد عكاســـي يـــې كړې ده.

عنتــرة بــن شــداد او خوشــحال خــان پــه خپلــو ځــانونو او قــوم قبيلــو بانــدې فخــر كــوي دوئ كــه د جنــګ مېــدان وي يــا د شــاعرۍ ژبــان وي يــا د قبيلــې ځــوان وي چرتــه هــم ښــكته او كمــزور نــه ظــاهروي بلكــه د فخــر پــه هــر بېــت

29. خوشحال ريويو، ج2، سېريل نمبر 3، 4، خوشحال ريسرچ سېل پېښور يونيورسټي، پېښور، 1985ء،
مخ: 13
30. د خوشحال خان مطالعه، تاج كتب خانه قصه خواني پېښور، مخ: 360

کښــې د خپــل ننګيــالتوب يــا د قبيلــې ننګيــالتوب بيــانوي يــا د خپلــې شاعرۍ په فخر يه انداز سره څرګندونه کوي.

عنتـرة بـن شـداد کـه پـه خپـل ځـان، شـاعرۍ او قبيلـې بانـدې ډېـر فخـر کـوي د ده پـه نـزد چرتـه چـې پـه زمکـه د فخـر کوُنکـو خلکـو ذکـر کېـږي نـو د ده ذکـر بـه پکښـې کېـږي ځکـه چـې د جنـګ پـه مېـدان کښـې د ده د تـورې ضـرب ډېـر قـوي دی، د ده پـه هـره وادۍ او هـر جنـګ کښـې تکـړه ننګيـالو تـه مـاتې ورکـړې دي او د ده تـورې د لويـو لويـو ننګيـالو سـرونه پـه صـحرو او شاړو کښې پرېښودلي دي.

خوشـحال بابـا هـم پـه فخريـه شـاعرۍ کښـې د عنتـرة بـن شـداد نـه کـم دې. هغـوي پـه خپـل ځـان، شـاعرۍ او قـوم بانـدې فخـر کـوي. خپـل ځـان د زمـانې ننګيـالی ګڼي. د ده پـه نـزد ده د افغـان پـه نـام داسې کلکـه تـوره ؤتړلـه چـې درسـت پښـتون ئـې عـالم کښـې څرګنـد کـړو. ده خپـل ځـان او پښـتانه د مغلـو نـه کـم نـه شـمېرولو. مغلـو تـه بـه يې پـه وربـوز خبـرې کولې، هغـو تـه يـې ډېـرې مـاتې ورکـړې او د اورنګزېـب باچـا نـه يـې د جېلخـاني بـدل واخېسـتو او د زړۀ تاؤ يې ترې وويست. عنتزة بن شداد وايي:

اذا ذکـــــر الفخـــــار بـــــارض قـــــوم
فضـــرب الســـيف فـــي الهيجـــاء فخـــري(31)

منظومه ترجمه:

چـې پـه فخـر ځـوك پـه زمکـه کښـې يـاديږي
نـــو د تـــوور پـــه مېـــدان فخـــر زمـــا دی

دغسې وايي:

ولقيـــت الأبطـــال فـــي کـــل حـــرب
وهزمـــتُ الرجـــال فـــي کـــل وادی(32)

31. ديوان عنترة ومعلقته، مخ:67
32. ديوان عنترة بن شداد ، په مقدمه د عبد المنعم عبد الرؤف، مخ:81

منظومه ترجمه:

پـه هـر جنـګ هـره وادی کښـې بريـالی يـم
ننګيـــالو ســـره وهلـــې ټټـــر مـــا دی

بل ځائې وايي:

ترکـــت الفرســـان صـــرعی بطعـــن
مـــن ســـنان يحکـــی رؤوس المـــزاد (33)

منظومه ترجمه:

ننګيـالي مـې ډيـر پـه تـوره انبـارې کـړل
د هـر زخـم سـر يـې دې بانـدې ګـواه دی

خوشحال خان بابا هم دغه مفهوم دا رنګه ځرګندوي:

د افغـــان پـــه ننـــګ مـــې وتړلـــه تـــوره
ننګيـالې د زمـانې خوشـحال خـان خټـک يـم (34)

بل ځائې وايي:

چـــې مغـــل وتـــه مـــې وتړلـــه تـــوره
درسـت پښـتون مـې و عـالم وتـه ځرګنـد کـړو (35)

بل ځائ وايي:

تـــر کابلـــه تـــر اټـــک پـــه ســـمه غرونـــو
انبـــاري دي د مغلـــو د ســـرونو (36)

د پاسـنو اشـعارو نـه معلومـه شـوه چـې عنتـره بـن شـداد او خوشـحال خـان پـه خپلـو ځـانونو داسـې فخـر کـوي چـې د دوئ وړانـدې چرتـه هـم

33. ايضا
34. د خوشحال خان خټك كليات، (كامل)، مخ: 1، ض(مقدمه)
35. خوشحال ريويو، ج2، سېريل نمبر 1 مخ:134، 1987 م.
36. منتجبات خوشحال خان خټك، پشتو اکېډمي پېښور، مخ:320

ننګیالي اودرېدلې نه شي. دوئ چې د چا خلاف توره اوچته کړي هغه سر خوړلې دي.

د عنتره او خوشحال خان فخریه شاعري ډېره خوږه او د لوستلو لائقه ده ځکه چې دا شاعري دوئ په حقه کړې ده. دوئ په حقه ننګیالي وو. دا د دوئ د عملي ژوندګۍ حقیقي ترجماني او عکاسي ده.

## هیجاء:

عنترة بن شداد العبسي او خوشحال خان خټك هېجائي شاعرۍ کښې هم د چانه کم نه وو د دوئ په هېجائي شاعرۍ کښې ډېر یوشان والې او مشابهت دي. دواړو د خپلو مخالفینو، دښمنانو، خپلو قبیلو او خپلوانو غندنه کړې ده او ورته ئې بد رد وئیلې دي.

عنترة بن شداد د خپلو مخالفینو هېجا کړې ده خاندان بني العشراء ته یې بد رد وئیلي دي چې د دې خاندان مشران ئې ډېر په بد حال کړي وو. وهلي او وژلي ئې وو. او د وبار(یو ځناور دې)په شان ئې سپېره کړې وو. اوس دوئ له په کار نه دي چې په شا مې کنځل راته کوي بلکه د کنځلو لائق خو دوئ دي زه د فخر لائق یم، زه به فخر کوم او دوئ ته به خلك په سپك نظر ګوري.

دغه رنګه خوشحال خان هم د خپل قام قبیلې، د اقرباؤ، دښمنانو او تر دې چې د خپل ځان هم هېجو کوي، خوشحال خان بابا د خپلو ځامنو، دښځې، اقرباؤ، قبیله خټك، قبیله یوسفزئې او په خاص توګه د مغلو ډېر سپکاوې کوي. د اورنګ باچا سره ئې سخته دښمني وه ځکه چې هغوي دوئ ناحقه د تورو تنبو شاته بندیوان کړي وو چې کله ئې اورنګزېب ته ماتې ورکړې نو په ښکاره ئې چغې اوکړې چې د اورنګزېب نه مې بدل واخېستو او داسې بدل چې ښه مې سپېره کړو او د زړۀ تاؤ مې پرې اوویست او وایي چې پښتنو ځلمو د مغلو په وینو داسې منګولې سرې کړې لکه باز چې په خپل ښکار منګولې سرې کړي چې کله اورنګزېب ښه سپك او ذلیل شو نو د دهلي نه راغلو او په اټك کښې یو کال راته پروت وو، ډېر خفه او زړۀ ماتې وو.

عنترة شداد وايي:

ألاأبْلِـــــغْ بنــــــي العشـــــــراء منــــــى
علانيــــــة فقــــــد ذهــــــب الســـــرارُ
قتلــــــتُ سراتـــــكم وخَلســــــتُ مــــــنكم
حســــــيلا مثــــــلما حُســــــل الوبـــــارُ
ولـــــم نقتُلـــــكم ســــــراً، ولــــــكن
علانيــــــة، وقـــــد ســـــطح الغبـــــار (37)

منظومه ترجمه:

العشـــــراء تــــه مــــې ښـــكاره ورکــــړی خبــــر
يــــره نـــــه لـــــرم د مــــرګ او د ضــــرر
د وبــــار پــــه شــــان مــــې کــــړل واړه ســــپېره
پــــه ســــپېره مرګــــي مــــې مــــړ کــــړو هــــر مشــــر
د کنزلــــو حــــق ئــــې نشــــته دی وماتــــه
زه لائــــق يــــم د لــــويی او د فخــــر

خوشحال بابا وايي:

د اورنـــــګ بادشـــــاه مـــــې اوويســـــت
تــــــاؤ او د بنــــــد او د زنــــــدان(38)

بل ځائ وايي:

پښـــتنو ځلمـــو بيـــا لاســـونه ســـره کـــړل
لکـــه بـــاز منګلـــي ســـرې کـــړه پـــه خپـــل ښـــکار
اورنګزېـــب راتـــه يـــو کـــال وشـــو چـــې پـــروت دی
پـــه صـــورت حېـــران پرېشـــان پـــه زړۀ افګـــار

عنتـرة بـن شـداد د خپـل تـره نـه سـخت خفـه دی ډېـر بـد رد ورتـه وايـي ځکـه چـې د ده لـور د عنتـرة معشـوقه وه هغـه ده تـه ډېـرې طمعـې او اميدونـه

37. ديوان عنترة و معلقته، مخ:185
38. خوشحال ريويو، ج4، سېريل نمبر 1 مخ:137

ورکړل او قسم قسم ازمېښتنو کښې ئې مبتلا واچولو خو بیا ئې هم خپله لور ورنه کړه. دغه رنګ خوشحال خان هم د خپلو ترونو هېجې کړې دي ځکه چې هغوي دخوشحال خان خلاف مغلو ته سازش کړې وو.

عنترة وايي:

سقى الله عمي من يد الموت جرعة
وشلت يداه بعد قطع الأصابع
كما قاد مثلي بالمحال إلى الردي
وعلق أمالي بذيل المطامع(39)

منظومه ترجمه:

خدايه دې مړ کړي زما تره
ګوتې پرې، لاس يې شاله
په لالچ کښې يې کړم خښ
خواهشات مې په غم سره

خوشحال بابا د خپلو ترونو او خپلوانو هېجې داسې کوي:

اقرباء راته عقرب شول
راضي مند مې په تعب شول
دواړه ترونه مې نا اهله
ابو جهل، بو لهب شول
زه يې بند کړم په مغلو
په خانۍ او په منصب شول(40)

معلومه شوه چې د عنترة بن شداد او خوشحال خان په هيجائې شاعرۍ کښې ډېر يوشان والې دې. د دوئ افکار او احساس يو شان دې. د دوئ د ژوند حالات يو شان دي ځکه د دوئ تراخه تجربات هم يو شان

39. ديوان عنترة بن شداد، په مقدمه د عبد المنعم عبد الرؤف، مخ:6
40. فراق نامه، خوشحال خان خټك، تحقيق زلمې هېواد مل، ملت پرېس لاهور، پاکستان 2001، مخ:70

دي او دا وجه ده چې دوئ شاعرانه مزاج کښې يو شان غصه او نفرت لري او د خپلې غصې او نفرت اظهار پکښې کوي.

## په جېل کښې شاعري:

د عنترة بن شداد او د خوشحال خان د ژوند حالات او واقعات ډېر يو شان دي. دوئ دواړه د خپلو ترونو په سازش سره د قېد و بند سختو سره مخ شول. عنتزة بن شداد دپاره خپل تره يو سازش تيار کړو چې عنترة به مړ شي او د ده لور(چې د عنترة معشوقه وه او واده يې ورسره کول غوښتل) به تري خلاصه شي. نو د دې مقصد دپاره يې ورته ووئيل چې په عراق کښې د "هيره" سيمې نه سل قيمتي اوښان راوله. د هيره بادشاه ډېر ظالم ؤ عنترة ئې قېد کړو، دغه رنګه د خوشحال ترونو د دولت او منصب په لالچ باندې د اورنګزېب سره سازش تيار کړو او خوشحال خان يې قېد کړو.

په قېد کښې عنترة بن شداد او خوشحال خان ډېره خوندوره شاعري کړې ده په دې وخت دوئ يو مثالي او زړۀ پورې غزلې لېکلې دي د خپلې معشوقې ذکر يې په کښې کړې دې د خپل کلي وطن او د وطن د خلقو يادونه ئې پکښې کړې دي. عنترة بن شداد د خپلې معشوقې د بې کچه مينې غمژن اظهار د جېل په ګوټ کښې کوي او معشوقې ته داسې مخاطب دی چې زما معشوقې د مينې اور زما په سينه (کليجې) کښې دی او ستا مينه د اور په غشو باندې زما زړۀ ولي او د علم السعدي سيمه (چې د ده او د معشوقې سيمې ده ته مخاطب دی) چې اې علم السعدي ايا زه بېرته راځم په خپلو اړخونو کښې د سپرلي ګلونه وګوره.

دغه رنګ د ربوتين او حاجز د سيمې او د هغه خلکو ذکر کوي. خوشحال خان خټك هم په جېل کښې د معشوقې، د خپلو سيمو اټك او پېښور او د هغې د خلکو ذکر کوي او ډېر ئې يادوي. عنترة بن شداد وايي:

يا عبل! نارُ الغرام في كبدي
ترمي فؤادي بأسهم الشرر(41)

---

41. عنترة وعبلة، مخ:117

بل ځائې وايي:

أيـــا علـــم الســـعدي هـــل أنـــا راجـــع
وأنظـــر فـــي قطـــر لـــك زهـــراء الـــأراجع
وتبصُـــــرُ عينـــــى الربـــــوتين وحـــــاجزا
وســـكان ذات الجـــزع بـــين المرابـــع(42)

منظومه ترجمه:

بیـــا بـــه راشـــم ای ســـعدي ســـتا پـــه ډګـــر
چـــې وګـــورم د ســـپرلي ګـــل یـــو نظـــر
زمـــا ســـترګې ربـــوتین او حـــاجز غـــواړي*
د جـــزع خلکـــو پـــه دیـــد یـــخ کـــړم ټټـــر

خوشحال خان وايي:

څـــوك چـــې یـــاد کـــه پېښـــور
زمـــــا زړهٔ شـــــي منـــــور
څـــوك چـــې یـــاد کانـــدي اټـــك
قیافـــــه کـــــړم د ختـــــك(43)

دې پـاس شـعرونو نـه انـدازه لګـي چـې عنتـرة بـن شـداد او خوشـحال خـان ختـك دواړه لکـه د یـوې ونـې ګـلان وو. د دوئ د ژونـد حـالات او واقعـات یـو بـل سـره دومـره نـزدې او مشـابه وو چـې د دوي شـاعرۍ تـه یـې بالکـل یـو شـان احساسـات، خیـالات، افکـار او اظهـار ورکـړل. اول دوئ د خپلـو اقربـاؤ نـه زړهٔ مـاتې شـول خپلـو ترونـو او اقربـاؤ ورسـره بـد وکـړل بیـا یـې جېـل تـه ولېـږل، قیـدیان شـول، د جـابرو بادشـاهانو د قـانون د لانـدې راغلـل، یـو

42. دیوان عنترة , په مقدمة د کرم البستانی , مخ:157
*علم سعدي، الربوتین، حاجز او جزع د هغو ځایونو نومونه دي چې عنترة او د هغه معشوقه پکښې اوسېدلې ده.
43. فراق نامه، خوشحال خان، د ژبو او ادبیاتو پوهنځائې کابل، افغانستان 1363ھ، مخ: 38

طرف د خپل ژوندون ورسره فکر وو بل طرف ته د خپلو معشوقو غم وو او بل طرف د خپلې سيمې او د هغې خلکو يادونو تنګول، په دغو حالاتو کښې دوي ډېره ښه شاعري وکړه.

بيا دواړه د قېدو بند نه خلاص شول خپل کورونو او قوم قبيلو ته راغلل خو بيا هم ظالم حالاتو په قلار پرې نه ښودل او توره او ډهال ئې په لاسونو کښې ورکړل او د دښمنانو سره ئې جنګونو ته تيار کړل. دواړه شاعرانو ډېرې جګړې او جنګونه وکړل ډېرې کاميابۍ ئې ومونډلې او آخر هغه څيز د دنيا نه اوچت کړل کوم چې هېڅوك نۀ بخښي.

**پايله**:

د دې بحث نه معلومه شوه چې د عنترة بن شداد او د خوشحال خان خټك په افکار کښې يو تر بله ډېر مماثلت دی، که دوئ د مينې په حقله افکار وړاندې کړي نو معشوقې ته يې د لمر او سپوږمۍ تشبهات ورکړي دي که د معشوقې د حصول دپاره ئې فکري هلې ځلې کړې دي نو دوئ خپلې معشوقې په زور او طاقت ځانونو ته مائلې کړي نه دي بلکې د مينې په کثرت، د فراق د عذاب په اظهار، په اوچتو اخلاقو او قربانو باندې ئې د معشوقو د زړونو ګټل غوښتلې دي. دا ټول واقعات او حوادث ئې دومره په ښکلې انداز قلم ته سپارلي دي چې د دوئ په رېښتونې مينه او رېښتونې شاعرۍ دلالت کوي.

عنترة او خوشحال دواړه د تورې او قلم خاوندان وو، دوئ که يو اړخ ته د مينې غزل ليکل نو بل اړخ ته د تورې خاوندان هم وو. دوئ چې کوم کار په توره کړی دی هغه ئې په قلم هم راوستی دی او کوم کار يې چې په قلم کړی دی هغه ئې په توره هم سر ته رسولی دی يعنې دوئ چې کومې بهادرې په توره کړې ده هغه يې په قلم هم ليکلې ده او کومه بهادري او حقيقت يې چې په قلم سره ليکلی دی هغه يې په حقيقت سره د تورې په سر سر ته رسولی دی. يعنې د دوئ قول و فعل يو وو. رېښتونې عاشقان وو، رېښتوني شاعران وو، رېښتوني ننګيالي وو، رېښتونې سرداران وو.

د عنترة بن شداد او خوشحال خان په افکارو کښې بالکل د يو شاعر يا مفکر په شان يو شان والی دی. د دوئ د شاعرانه افکار نه اندازه لګي

چې دوئ د لوړې پايې عاشقان وو. مينه د دوئ په رګونو کښې ګډه شوې وه، د مينې اظهار ئې دومره په زړۀ راښکوني الفاظو او طريقو کړی دی چې د دنيا شاعران ورته حېران دي او داسې ښکاري ګويا چې دا د يوۀ زړۀ احساسات دي. دغه رنګه د جنګ جدل په مېدان کښې بالکل د يو شان جذبې، همت او تکل خاوندان ښکاري، دغه رنګه په علويت او فخر کښې هم يو شان انداز لري، نو مونږ په دې نتيجه رسو چې عنتره بن شداد او خوشحال خان خټک په ډېرو موضوعاتو او اړخونو کښې بې مثله يو شان والی او مشابهت سره لري.

***

# حوالې

ابن شداد، عنترة، دیوان عنترة بن شداد العبسي، مقدمة کرم البستاني، دار صادر بیروت لبنان, 1958

احسان، فضل احسان، انتخاب له دیوان خوشحال خان، خوشحال پرېس پېښور 1991ء

خټک، خوشحال خان، ارمغان خوشحال خان، مقدمه سید رسول رسا، یونیورسټي بك ایجنسي پبلشرز

خټک، خوشحال خان، د خوشحال خان کلیات، د افغانستان د علمونو اکادمي، د ادب څانګه، کابل – افغانستان

خټك، خوشحال خان، دیوان خوشحال خان خټك، دوئمه حصه، پېښور

خټك، خوشحال خان، فراق نامه، تحقیق زلمی هېواد مل، ملت پرېس لاهور، پاکستان

خټك، خوشحال خان، فراق نامه، د ژبو او ادبیاتو پوهنځئ کابل – افغانستان 1363ھ

خلیل، شرف الدین، دیوان عنترة بن شداد ومعلقته، منشورات دار مکتبة الهلال، بېروت، لبنان، 1997ء

خلیل، شرف الدین، دیوان عنترة بن شداد ومعلقته، منشورات دار مکتبة الهلال، بېروت، لبنان، 1997ء

خوشحال ریویو، ج4، سېریل نمبر 1، شاه جهان (خوشحال او اورنګزېب)، خوشحال ریسرچ سېل پېښور یونیورسټي، پېښور، 1958ء

خوشحال ریویو، ج2، سېریل نمبر 3، 4، خوشحال ریسرچ سېل پېښور یونیورسټي، پېښور، 1985ء

د خوشحال خان خټك کلیات، د کابل چاپ

د خوشحال خان مطالعه، تاج کتب خانه قصه خوانی پېښور

دیوان عنترة ، په مقدمة د کرم البستاني

دیوان عنترة بن شداد ، په مقدمه د عبد المنعم عبد الرؤف

ديوان عنترة و معلقته

عبد الرؤف، عبد المنعم، شرح ديوان عنترة بن شداد العبسي، مقدمة ابراهيم الابياري، مطبعة شركة فن الطباعة القاهره، مصر

عنترة وعبلة، منشورات جروس برس، طرابلس – لبنان 1994م

فراق نامه، خوشحال خان، د ژبو او ادبياتو پوهنځۍ کابل – افغانستان 1363ھ

فراق نامه، خوشحال خان خټک، تحقيق زلمی هېواد مل، ملت پرېس لاهور، پاکستان 2001

کامل، دوست محمد خان، د خوشحال خان خټک کليات، ادارة اشاعت سرحد – پاکستان 1960

کليات د خوشحال خان خټک په مقدمه د دوست محمد خان کامل

منتحبات خوشحال خان خټک، پشتو اکېډمي پېښور